Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

# د استوګنې د قانون د 45 a پاراګراف له مخې د مسلکي الماني ژبې د ودې په برخه کې د یاداشتونو پاڼې

د مسلکي ژبې کورسونو څخه هدف دادی څو خارجیان په ژر او دوامداره توګه د روزنې - او یا د کار امورو په بازارونو کې ادغام شي

تاسې په اصل کې دا امکانات لرئ څو په یومسلکي ژبې کورس کې ګډون وکړئ، که چیرې تاسې:

- د خارجي ښځینه او یا خارجي نارینه یا
- د اروپایي اتحادیه ښځینه او یا نارینه اتباعوڅخه شمارل کیږئ او یا
- د آلماني اتباعو په توګه او یا د هغو اتباعو په توګه چې پخوا له خارج څخه راغلي دي او دآلمان هیواد تابعیت لرئ او هیڅ پوره کافي پوهه نه لرئ، څو د روزنې - او یا د کارامورو په بازارونو کې ادغام شئ .

## ۱. د مسلکي ژبي کورسونه څه دي ؟

په مسلکي ژبې کورسونو کې ، آلماني ژبه د اړوند مسلک په تړاو زده کیږي. مسلکي ژبي کورسونه د لومړنې مسلکي ژبي کورسونو او ځانګړې مسلکي ژبې کورسونو په شکل وړاندې کیږي .

لومړنې مسلکي ژبي کورسونه او ځانګړې مسلکي ژبې کورسونه

دغه نوموړي کورسونه له 400 تر 500 درسي ساعتونو څخه چې هر یو درسي ساعت یې 45 دقیقه ده ، جوړ شوي دي . دغه د کورس بډولونه کولای شي چې د هدف د ژبې سطح C1, B2, B1, A2 او یا C2 ولرئ . په نوموړي کورسونو کې ، هغه ژبې عمومي مسلکي پوه ځای په ځای شوي ده ، کومه چې تاسې د خپلو مسلکونو د ترلاسه کولو په منظور ضرورت لرئ . په بل عبارت تاسې آلماني مسلکي ژبه زده کوئ چې په کې آلماني ژبې مسلکي عناصر او اصطلاحات موجود دي . تاسې د آلماني ژبې په څنګ کې ، همدارنګه هغه لغتونه هم زده کوئ ، کوم چې تاسې هغو ته په مسلک کې ضرورت لرئ . تر څو په دې ډول خپلو ملګرو، همکارانو او آوامرو سره خبرې او تفاهم وکړای شي او مشتریانو سره وکولای شي تماس او رابطه رامینځ ته کړئ .

ځانګړې مسلکي ژبې کورسونه : د مضمون اړوند درسي لارښوونې/ د رسمیت پیژندې پروسه

په دغو ځانګړوکورسونو کې د معینو مسلکونو او یا د مسلکي ګروپونو په اړوند آلماني مسلکي ژبې تدریس کیږي . په ځانګړو کورسونو کې تاسې هغه د مضمون په اړوند خاص تخنیکي اصطلاحات او د ژبې ګرامر زده کوئ ، کوم چې په راتلونکې کې خپلو مسلکونو ته ضرورت پیدا کوئ . په نوموړو کورسونو کې تمرکز په تخنیکي مطالبو او ژبني وسایلو شوې دي ، کوم چې تاسې خپل مسلک لپاره ضرورت پیدا کوئ .

## ۲. د ګډون وړتیا د مسلکي ژبې کورسونو لپاره

د ګډون وړتیا د کارامورو اداری لخوا او یا د کارامورومرکز لخوا سازمان دهي کیږي .

تاسې کولای شې د مسلکي ژبې کورسونو لپاره د ګډون وړتیا ولرئ , په هغه صورت کې چې تاسې

- کارامورو مرجع ته د مسلک د زده کړولټولو اطلاع ورکړې وي او یا د کار پیدا کولو په هکله نوموړې
- مرجع ته خبر ورکړې وي او یا
- د ځان بیکارۍ په مورد , نوموړې اداره مو په جریان کې ساتلې وي او یا د کارامورو اداری لخوا د روزنې

- اقداماتو – او یا نورو بعدی زده کړو اقداماتو په لړ کی موقعیت ولری او یا
- د ټولنیز قانون کتاب د دوهم کتاب له مخی ، مالی خدمات ترلاسه کړی

ستاسو ګډون وړتیا په نوموړو کورسونو په یوه ژبی مسلکی کورس کی د ستاسو مربوطه کارامورو اداری/ او یا کارامورو مرکز لخوا صورت مومی .

که تاسو د کارامورو اداری مشتری یاست، دا د اجازې بڼه اخلي.

که تاسو د کار د مرکز مشتری یاست، دا د جواز بڼه هم اخلي، په دې شرط چې تاسو د خپل ادغام متخصص سره یوځای د همکاری پلان جوړ کړی وي. که چیرې د همکاری دا ډول پلان شتون ونلري، تاسو اړتیا لرئ چې د مسلکي ژبې کورس کې برخه واخلئ

په نوموړو کورسونو کی د وړتیا او مکلفیت د ګډون په منظور لیست ترتیب شوی او کولای هغه په راتلوکی کی پخوا د مسلکی ژبی کورسونو پیل څخه د خپلو اوسیدو نږدی شاخوا محلات څخه ترلاسه کړی (KURSNET-Ausdruck) . تاسی کولای شی د یو کورس تنظیم کونکی اداره ته د خپل یو کورس انتخاب په هکله اطلاع ورکړی .

د ګډون وړتیا د مهاجرت او کډوالو فدرالی دفتر لخوا

که چیری تاسی د کارامورو مرجع سره د مسلک د زده کړوپه لټه کی وی , د کارامورو اداری سره د کارپه پیدا کولو منظور، هغوی سره په رابطه کی وی او یا کارامورو اداری سره د بی کاره شخص په عنوان ثبت وی او مالی خدمات د ټولنیز قانون کتاب د دوهم کتاب له مخی ترلاسه کوی، او

- په کار بوخت وی یا
- د خپلو خارجی مسلکی اسنادو وړتیا د رسمی پیژندنی په هکله د ملتیا په لړ کی یی یا د یو مسلک د کار جواز لپاره یوه معینه ژبی سطح ته ضرورت لری او یا
- مسلکی زده کړی بشپړوی یا
- غواړی چه د یو مسلکی زده کړی بشپړوی آمادګی ونیوی

د تصدیق نه وروسته ، تاسوته د نوموړی غوښتنلیک په ځواب کی په تحریری ډول د ګډون وړتیا اطلاعیه ترلاسه کوی چې په عین زمان کی ورسره د کورسونو وړونکو ادارو یو لیست هم ضمیمه ده. نوموړی اداری ستاسو د استوګنی محلاتو په نږدو شاوخوا کی موقعیت لری ، وروسته یو مناسب مسلکی ژبی کورس عملی کوی (KURSNET-Ausdruck). د نوموړی سند نه وروسته نوموړو ادارو ته مراجعه کوی او د زړه د خوښی کورس انتخابوی .

د ګډون وړتیا سند د اعتبار وخت

ستاسو نوموړی دغه د ګډون وړتیا سند د دریو میاشتو پوری اعتبار لری . فقط دغی تعیین شوی مهلت په جریان کی کولاشی تاسی د یوی کورس تنظیم کونکی اداری ژبی مسلکی کورس ته مراجعه وکړی او ځان پکی شامل کړی . په دی ډول د امکان په صورت کی لطفاً ژر نوموړی اصلی سند خپل مربوطه کورس تنظیم کونکی اداری خدمت کی وړاندی کوی او هغه په جریان کی ساتی . که چیری تاسی د یو کورس لپاره په ګډون مکلف شی ، کیدای شی چې په دغه صورت کی دا مهلت لنډ شی . په مربوطه دغه د ګډون وړتیا سند کی نوموړی معین مهلت تذکر مومی . یوازې په هغه قضیو کې چې د ګډون کولو وړتیا لپاره غوښتنلیک له بهر څخه جوړ شوی وي د ګډون کولو وړتیا به د نوي میاشتو انتقالي دورې لپاره غوښتنه وکړي.

## ۳. کورس تنظیم کونکی اداره

کورس تنظیم کونکی اداره مجبوره ده څو تاسو ته د یو مسلکی ژبی کورس د تمه شوی پیل څخه اطلاع درکړی . ستاسو خبر نه وروسته نوموړی کورس نه باید د څلورو هفتو نه وروسته شروع شی . که چیری دا کار په نوموړی وخت کی صورت ونه مومی ، بیا په هغه صورت تاسی یو بل کورس تنظیم کونکی اداره استول کیږی . په دغه حالت کی نوموړی کورس تنظیم کونکی اداره تاسو ته خپل د ګډون وړتیا اصلی سند باید بیرته تسلیم کړی . بیا وروسته دغه نوموړی سند به بل نوی کورس تنظیم کونکی اداره ته تسلیموی .

لطفاً اطمینان حاصل کړی چی د نوموړی کورس تنظیم کونکی اداره او د مهاجرت او مهاجرینو فدرالی دفتر لپاره د لاسرسی وړ یاست . د خپل استوګنی ادرس تبدیلودو څخه لطفأ سمدلاسه د کورس وړونکی اداره په جریان ساتی او خبر ورکوی.

## ۴. په کورس کی په منظم ډول برخه اخیستل

که چیری غواړی چی د مسلکی ژبی کورس هدف ته ورسیږی ، نو مجبور یي چی په منظم ډول په درسی ساعتونو کی برخه واخلی . په دی مفهوم چی تاسی باید همیشه په منظم ډول په درسی ساعتونو کی حاضر اوسی او د څرتیفیکات په ازموینه کی برخه واخلی . درسونه او ازموینې غوښتونکی دی. که تاسو ډیر ځله له لاسه ورکړئ، د کورس هدف به نور ترلاسه نشي. بیا په بل کورس کې ګډون امکان نلري. د کورس په جریان کی بل کورس ته تبدیلیدل اصلاً امکان نه لری . کورس تنظیم کونکی اداره مجبوره ده څو د غیرحاضری وختونو څخه کارامورو اداره یا کارامورو مرکز/ جابسنتر ته اطلاع ورکړی . که چیری مریض شی ، نو په هغه صورت کی د دوهمی ورځی غیرحاضری نه وروسته د داکتر طبی تصدیق سند ته ضرورت ده او خپلی مربوطه اداری ته تسلیمیږی .

## ۵. د لګښت سهمیه ( فیس)

د کورس کډونکونکی د تدریس د ګډون په وجه د لګښت ورکولو سهمیه ( فیس) څخه خلاص دی او دا کورسونه په وړتیا توګه دوام لری . که چیری تاسی په رسمی ډول په یو کار او یا وظیفه بوخت وی او اضافه له (۲۰.۰۰۰ یورو ) کلنی عاید ولری او د خپلی مرمینی سره په ګډه اویا میرمنه مو اضافه له (۴۰.۰۰۰ یورو) کلنی عاید ولری ، په دغه ډول مواردو کی مجبور يي څو د ځپلو معاشونو څخه وضع شوی مالیات تحویل کړی او په دی ډول په هر درسی ساعت باندی (۵۰ فیصد ) وضع کیږی . د تطبیق وړ لګښت بیرته ورکولو نرخ د مهاجرت او مهاجرینو لپاره د فدرالي دفتر په ویب پانه کي د لارښودونو ضمیمه ۳ کي موندل کیدی شي.

نوموړی مالیات باید د تنظیم کونکی اداری مالی بودیجی ته په پیشکی ډول تحویلی شی . دا مالیاتی مالی سهمیه ستاسو د غیرحاضری په صورت هم باید تحویلی شی او د بیرته د غوښتنی حق نه لری .
که چیری تاسی په کار بوخت يي , د نوموړی کورس پیل کی د مالیاتی مالی سهمیه په تحویلدو مجبور نه وی او اوس دغه کورس لغوه کوی ، کوم چی داسی پکی درس شروع کړی، په دغه حالت کی تاسی مکلفیت ده ، څو د ټولو درسی ساعتونو لګښت / مصرف په خپله غاړه واخلی . کورس مفت او رایګان ده که چیری نوموړی کورس ستاسو لخوا لغوه او قطع نه شی .

## ۶. د لګښت بیرته ورکول

که تاسی د دووکالونوپه جریان کی یعنی د ګډون وړتیا سند تاریخ صادره ولو وروسته ، د ژبی د کورسونو امتحانونو مثبت نتایج په اثبات ورسوی ، تاسو ته په دی صورت کی له د مهاجرت او کډوالو فدرالی دفتر لخوا د غوښتنلک په بدل کی 50% لګښت بیرته درکوی .

## ۷. د سفر لګښتونه

د احتیاج او ضرورت په حالت کی اوبیا وروسته ستاسو د غوښتنلیک آرایی په مقابل کی د سفرلګښتونو په برخه کی مالی کمکونه صورت مومی ، مګر دا هم په هغه صورت کی چی وړاندی شرایط ولری :

- د بیکاری مالی مرستی I درسره کیږی ( ټولنیز قانون کتاب III - SGB III) له مخی
- د اتباعو پیسې درسره کیږی ( ټولنیز قانون کتاب II - SGB II) له مخی
- د ټولنیزو مرستی مستحق وی . د (SGB XII ) ټولنیز قانون کتاب XII له مخی
- نوی ځوانان ( د ټولنیز قانون کتاب SGB VIII- پر ځای د عایداتو د پناه غوښتونکو د ګټو قانون په اساس ) د مرسته مستحق وی
- کله چی عایدات د د پناه غوښتونکو د ګټو قانون په اساس تر لاسه کړی ( AsylbLG ) یا
- مسلکی روزنی مالی کمکونه د ټولنیز قانون کتاب III د 56 پاراګراف (§56 SGB III ) له مخی تاسو سره صورت مومی .

شرط مګر خو په دی هکله همیشه دا دی چی درسی ځای ستاسو د اوسیدو ځای څخه حد اقل دری کیلومتر( نږدی د پښو لاره) مسافه ولری .

د نوموړی معلوماتو په درلودو سره ، څه وخت چی تاسی د مسلکی ژبی په کورس شروع کوی ، کولای شی په دی وخت کی د سفرلګښتونو په برخه کی مالی کمکونو یوغوښتنلیک د کورس تنظیم کونکی اداری له طریقه د مهاجرت او کډوالو فدرالی اداره په عنوان آرایه کړی .

## ۸. د ماشومانو مراقبت/ پاملرنه

که چیری تاسی ملاتړ د ماشومانو مراقبت/ پاملرنه په اړه ضرورت وینی ، نو په هغه صورت کی لطفاً د کورس تنظیم کونکی اداری ته مراجعه وکړی .

## ۹. په آزموینه کی برخه اخیستل

د مسلکی ژبی کورسونو فردی حرفوی ګروپونو په استثنا ، ټول مسلکی ژبی کورسونه په یوه وروستی آزموینی پای ته رسیږی . که چیری تاسی دغه څیرتیفیکات آزموینه کی کامیابه نه شی ، کولای شی هغه یوځلی بیا تکرار کړی . تکراری آزموینه ( یو ځلی د هغی چانس لری) ، مفت او وړیا ده .

## ۱۰. د مسلکی ژبی کورس تکرار

د ژبی مسلکی کورس کولای شی تاسی یو ځلی تکرار کړی ، که چیری تاسی په آزموینه کی د آلمانی ژبی پوره پوه نشی په اثبات رسولی او دا انتظار موجود وی چی پرته له کورس تکرار څخه ، آزموینه نه شی کولای چی په بریالیتوب سرته ورسوی . د یوځل تکرار مسلکی ژبی کورس لپاره مجبور یې یوغوښتنلیک آرایه کړی او نوی د ګډن وړتیا سند له جابسنتر/ کارامورو مرکز یا کارامورو اداری او یا د مهاجرت او کډوالو فدرالی دفتر څخه ترلاسه کوی . بیا به تاسو د ګډون نوی سند ترلاسه کړئ.

## ۱۱. نور څه چی تاسو باید پوه شی

ټولی په دی یاداشتونو پاڼوکی ذکر شوی غوښتنلیک فورمی کولای شی تاسی له کورس تنظیم کونکی اداری څخه ، له خپلی کارامورو اداری څخه ، له کارامورومرکز او یا له انترنت پاڼی څخه www.bamf.de ترلاسه کړی . له جزیاتو څخه تاسو ته کورس تنظیم کونکی اداره معلومات درکوی .